په ۳۹ ژبو ۲۸ میلیونه ټوکه زیات پلورل سوی کتاب

# زما پنیر چا یوووړل؟



په ژوندانه کې له بدلون سره د مخته تلو غوره لار



Ketabton.com

ليکوال: ډاکټر سپنسر جانسن
ژباړن: ثناء الله مومند

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۳۹ ژبو تر ۲۸ میلیونه ټوکه زیات پلورل سوی کتاب

# زما پنیر چا یووړل؟

په ژوندانه کي له بدلون سره د مخته تلو غوره لار

**لیکوال:** ډاکټر سپنسر جانسن

**ژباړن:** ثناءالله مومند

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم : زما پنیر چا یووړل؟

لیکوال: ډاکټر سپنسر جانسن

ژباړن: ثناءالله مومند

خپرندوی: نوی مستقبل خپرندویه ټولنه

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ وار :لومړی

چاپ کال: ۱۳۹۸ لمریز

قیمت: ۵۰ افغانی

## نوی مستقبل خپرندویه ټولنه

لومړی ادرس:کوټه سنګي-دسیلو د څلورم اوپنځم سړک ترمنځ د شاداب ظفر بلاکونوته مخامخ

دویم ادرس : د دهمزنګ لومړی سړک (مرکز عمومي کتابفروشي). ۰۷۸۸۲۲۰۵۳۰

درېیم ادرس: جوي شیر دخپرندویه ټولنو او کتاب پلورنځینو عمومي مرکز

۰۷۸۱۸۹٤۰٦٤

اړیکي : ۰۷۸۷۱۸۰۷۵۳/۰۷۷۸۸۷۰۳۰۵/۰۷۸٦٦۳۰۷۳۱


د چاپ حقوق له خپرندويې ټولنې سره خوندي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

منظور پښتین ته

ژباړن: ثناءالله مومند

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

بیا غونډېدنه.................................................. ۱
زما پنیر چا یووړل؟ کیسه ................................................ ۵
مباحثه .................................................................. ۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما پنیر چا یووړل؟ دا یوه لنډه کیسه ده چي د بدلون اړوند ژور حقایق په ګوته کوي. دا د څلور کرکټورنو په زړه پوري او له مفهوم ډکه کیسه ده چي په یوه پېچوي کي ژوند کوي او په پنیر پسي ګوري ترڅو ویې خوري او خوشحاله ژوند ولري.

دوه یې موږکان دي چي سنیف او سېرک نومونه یې دي. او دوه نور یې کوچني خلک دي. دوی هم د موږکانو په اندازه دي مګر په ظاهره او له کړنو یې ښکاري چي انسانان دي. د دوی نومونه هیم او هام دي. "پنیر" هغه څه ته د استعارې پر ځای کارېږي چي تاسي یې په ژوند کي غوښتنه لرئ: هغه کېدای سي ښه وظیفه اوسي، له مینې ډکه اړیکه اوسي، پیسې، ملکیت، ښه صحت، یا دماغي سکون اوسي. او پېچومی هغه ځای دئ چي تاسي پکښي په هغه څه پسي ګورئ چي غوښتنه یې لرئ: دا کېدای سي هغه سازمان اوسي چي تاسي پکښي کار کوئ، او یا هم هغه کور یا ټولنه اوسي چي پکښي ژوند کوئ.

په کیسه کي، دوی څلور واړه له داسي بدلون سره مخ کېږي چي تمه یې نه کېږي. بالاخره، په دوی کي یو له بدلون سره په بریالیتوب مخته ځي، او هغه څه لیکي چي د پېچومي په کړو وړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي يې له تجربو څخه زده کړي وي.

چې کله تاسي د ده ليکني وينئ، نو موندلای سئ له بدلون سره مخته ځنګه ولاړ سئ. په دې سره به مو په ژوند کي د فشار کچه ټيټه او د برياليتوب هغې لوړه وي. له ژونده به خوند اخيستی سئ. دغه کيسه تر يو ساعت په کم وخت کي لوستل کېږي، مګر کېدای سي پند يې د ژوند تر وروستيو ستاسي ملګرتيا وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بیا غونډېدنه

## شیکاګو

د یکشنبې لمرینه ورځ وه. څو تنه پخواني د ښوونځي ټولګیوال، چې هغه وخت د یو بل ښه ملګري ول، د غرمې ډوډۍ له پاره را غونډ سوي ول. دوی غوښتل د یو بل د ژوند احوال واخلي. یو بل ته تر جوړ پخیر ویلو او ډوډۍ خوړلو وروسته په ښه په زړه پوري مفاهمه کښېوتل.

انجیلا، چې هغه وخت په ټولګي کي له نامتو زده کوونکو وه، وویل، "ژوند له هغه ډېر متفاوت دئ چې ما یې هغه وخت فکر کاوه. ډېر بدلون یې کړی دئ."

نیتن ور غبرګه کړه، "بالکل." دوی پوهېدل دی په کورنیو چارو کي مصروف سوی وو، او له ډېر پخوا څخه په ټولنیزو چارو کي دخیل وو. نو دوی یې د اندېښني په لیدو حیران سول. ده پوښتنه وکړه، "مګر، کله مو فکر کړی چې کله هر څه بدلېږي او موږ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړو بدلون وکړو؟"

کارلوس ورته وویل، "فکر کوم موږ له بدلون سره مقاومت ښیو، ځکه خو له بدلون څخه بېرېږو."

جسیکا ورته وویل، "کارلوسه، ته د فټبال لوبډلې مشر وې. فکر مي نه کاوه چي ستا څخه به د بېرې خبره واورم."

دوی ټول په خندا سول. که څه هم پر مختلفو لارو تللي ول، بیا هم ورته احساسات یې لرل.

هر یوه هڅه کړې وه له هغه بدلون سره مبارزه وکړي چي ورسره مخ کېدونکی وو. تقریباً ټولو ومنل چي نه پوهېدل له بدلون سره مخته څنګه تللي وای.

بیا مایکل وویل، "زه له بدلون څخه بېرېدم. چي هر کله به په کار کي له بدلون سره مخ کېدو، نو نه پوهېدو څه مو کړي وای. ځانونه مو ورسره عیارولای نه سوای او تقریباً هر ځل مو زیان لیدی. داسي نو تر هغو وو چي تر څو مو یوه عجیبه او غریبه لنډه کیسه واورېده. دغه کیسې هر څه بدل کړل."

نیتن پوښتنه وکړه، "هغه څنګه؟"

"ښه، کیسې بدلون ته زما د نظر په زاویه کي بدلون راوست. دا یې را وښودل چي زیان څنګه په ګټه واړوم. تر دې وروسته نو په کار او شخصي ژوند دواړو کي له مثبت پایلو سره مخ سوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بیا غونډېدنه

"په لومړیو کې د کیسې ساده والي ډېر بد خوند راکړ او داسې ښکارېده لکه د ښوونځي په شپو او ورځو کې چې راته ویل سوې وه. مګر وروسته یې مفهوم ما درک کړ. په کیسه کې مې ځان ولیدی.

"چې کله په کیسه کې ما څلور کرکټرونه ولیدل چې په څو اړخونو کې یې زه خپله انځورولم، نو بیا مې پرېکړه وکړه چې باید د چا په څېر اوسم او بدلون مې وکړ.

"وروسته، ما دا کیسه په خپله کمپنۍ کې نورو ته وکړه او دوی د نورو تر غوږو ورسوله. ډېر ژر وو چې زموږ په سوداګرۍ کې ښه والی راغئ. او زما په څېر ډېرو خلکو وویل دغه کیسې یې پر شخصي ژوند هم اغېز کړی وو.

"مګر بیا هم څو کسان ول چې ویل یې دوی هیڅ ګټه ورسره ونه کړه. یا به هم دوی ته د کیسې پند له وړاندې مالوم وو او په ژوند کې به یې عملي کاوه، او یا به یې هم فکر کاوه په هر څه پوهېدل او نه یې غوښتل نور څه زده کړي. دوی نه پوهېدل نورو له دغه کیسې څخه څنګه ګټه کوله.

"چې کله زموږ د کمپنۍ له مشرانو څخه یوه تن، چې له بدلون سره یې ځان عیارولای نه سوای، کیسه بې ارزښته وګڼله، نو نورو پر ده خندل چې په کیسه کې کوم کرکټر د ده وو-هدف یې له هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا څخه وو چې نه یې څه زده کړل او نه یې بدلون وکړ."

انجیلا پوښتنه وکړه، "دا کومه کیسه ده؟"

"د دې نوم دئ: زما پنیر چا یووړل؟"

ټولو وخندل. کارلوس وویل، "ما ته یې له مخکې لا خوند راکړ. راته ویې وایه. ښایي موږ هم څه څنې زده کړو."

"ښه. ډېر وخت نه نیسي." په کیسه ویلو یې پیل وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما پنیر چا یووړل؟ کیسه

ډېر وخت مخکې، څلور کسه-دوه انسانان او دوه موږکان-په یوه لېري سیمه کې اوسېدل. دوی به په پېچومې کې منډې وهلې او پنیر یې لټول ترڅو ویې خوري او ځانونه ماړه کړي.

دوه یې موږکان ول چې سنیف او سېرک نومونه یې درلودل. او دوه نور یې انسانان ول چې هیم او هام یې نومونه ول. دوی هم موږکانو غوندې کوچني ول مګر کارونه یې د انسانانو ول.

دا چې دوی ټول کوچني ول، نو د خلکو توجه یې نه جلبوله چې دوی څه کول. مګر که له نږدې مو نظر ورته کړی وای، نو ډېر عجیب څه به مو لیدلي وای.

هره ورځ به موږکانو او کوچنیو سړیو په پېچومې کې خپل خاص پنیر لټول. موږکانو په ساده دماغونو او واړه فکر په کلک پنیر پسې ول ترڅو په غاښونو یې ټوټې جلا کړي او ویې خوري. مګر سړیو له خپلو دماغونو کار اخیستی ترڅو ځانګړی ډول پنیر ولټې. دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ٦ زما پنیر چا یووړل؟

باور درلود په دې سره به خوښي احساس کړي او بریا ته به ورسېږي.

دا چې موږکانو او کوچنیو سړیو توپیر درلود، بیا هم په یوه ټکي کې ورته ول: هر سهار به دوی د منډې وهلو جامې اغوستلې او ځانګړي بوټونه به یې په پښو کول؛ له کورونو راوتل او په پېچومي کې په هغه ډول پنیر لټولو یې پیل کاوه چې غوښتنه یې درلوده.

په پېچومي کې کړې وړې ډېري وې. کونجونه یې ډېر درلودل. په ځینو کې خورا خوندور پنیر موندل کېدای سوای. مګر همدا راز تاریکه کونجونه هم پکښې ول چې پای یې نه مالومېدی. څوک په اسانۍ په کښې ورکېدای سوای.

مګر هغه چا ته چې له دغه کړو وړو تېر سوي ول د پېچومي رازونه مالوم ول او له ژونده یې خوند اخیستی سوای. موږکانو، سنیف او سبرک، د پنیر موندلو ډېره ساده طریقه کاروله. یوه کونج ته به ولاړل، او که تش ورته ثابت سوی وای، نو مخ یې اړوی او بل ته تلل. د دوی هغه کونجونه په یاد ول چې پنیر پکښې نه ول او په ډېره چټکۍ نوو سیمو ته تلل.

سنیف به په خپله اوږده پزه د پنیرو لوری مالوماوه او سبرک به ورپسې منډه وهله. دوی به ورکېدل، غلط لوري ته به تلل او کله نا کله به له دېوال سره جنګېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر تر څه ګړي وروسته به یې لاره موندله.

هیم او هام هم د موږکانو په څېر له خپلو وړتیاوو ګټه اخیستله او فکر یې کاوه ترڅو له خپلو تېرو تجربو زده کړه وکړي. مګر دوی پر خپلو دماغونو زیاته تکیه کوله ترڅو د پنیر موندلو نوي لارې یې موندلې وای.

ځیني وختونه به دوی کامیابه ول، مګر نور وختونه به یې قوي انساني عقیدې او احساسات باعث د دې ګرځېدل چې دوی خپل هدف ته ونه رسېږي. له دې کبله یې ژوند څه ناڅه ستونزمن او له ننګوونو ډک وو.

سره له دې، سنیف او سېرک، هیم او هام هغه څه ترلاسه کړل چې په لټه یې ول. د دریمي ذخیرې په یوه کونج کې یې یوه ورځ خپل ډول پنیر وموندل.

تر دې وروسته به هر سهار دوی خپل د منډې وهلو جامې په تن کولې او دریمي ذخیرې ته به یې ځانونه رسول. ډېر وخت وروسته یې یو ځل بیا خپلې لارې وموندلې.

سنیف او سېرک به هره ورځ سهار وختي پاڅېدل او په پېچومي کې به په منډه ول، تل یې یوه لاره تعقیبوله.

چې کله به موږکان منزل ته ورسېدل، نو بوټونه به یې وکښل، سره وبه یې تړل او په غاړه کې به یې واچول. په دې ډول یې د اړتیا پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۸ زما پنیر چا یووړل؟

مهال بوټونه ژر په پښو کولای سوای.

وروسته به یې له پنیرو خوند اخیستی.

په لومړیو کي هیم او هام هم هر سهار دریمي ذخیرې ته تلل او هغه پنیر یې خوړل چي دوی ته یې انتظار کاوه. مگر څه موده وروسته، سړیو خپله طریقه بدله کړه.

هیم او هام به هر سهار یو څه ناوخته پاڅېدل، په جامو اغوستلو کي به یې ځنډ کاوه او دریمي ذخیرې ته به تلل. دوی ډاډه ول، ځکه پوهېدل پنیر چېري ول او څنگه ورته رسېدلای سوای.

دوی نه پوهېدل پنیر هلته ولي ول. یا دا چي چا ایښي ول. دوی فقط داسي انگېرنه درلوده چي بس پنیر همالته ول.

چي څنگه به هر سهار هیم او هام دریمي ذخیرې ته رسېدل، نو خاص داسي به ول لکه همدا چي یې کور وو. خپلي جامې به یې ایستلې او ځړولې. بوټونه به یې کښل او د کور څپلی به یې په پښو کولې. اوس نو دوی ورو ورو ارامېدل او د هوساینې احساس یې کاوه، ځکه پنیر یې موندلي ول.

هیم وویل، "دلته دومره پنیر سته چي تر مرگه مو بسنه کولای سي." کوچنیو سړیو ځانونه خوښ او بریالي احساسول، او داسي فکر یې کاوه چي گویا نور خوندي ول.

دوی ته دا پنیر ډېر زیات مالومېدل. ډېر ژر یې خپل کور نقل کړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پنیر په شاوخوا کي یې ژوند اختیار کړ.
ترڅو ځانونه یې په کور کي احساس کړي وای، هیم او هام د خپل نوي کور دېوالونه په ویناوو ښکلي کړل او حتی د پنیرو انځورونه یې پر رسم کړل. دا به د دوی پر څېرو مسکا راوسته.

## پنیر لرل چاته خوښي بخښي

ځیني وختونه به هیم او هام ملګري کور ته بېول او خپل د پنیرو لویه ذخیره به یې ورته ښوده. په دې به ډېر ویاړېدل. کله کله به یې ملګرو ته هم ورکړل.
هیم یوه ورځ وویل، "موږ د دغه پنیرو مستحقین یو. باید سخت کار مو کړی وای ترڅو دا مو موندلي وای." یوه تازه ټوټه یې را جلا کړه او خولې ته یې واچوله. وروسته د تل په څېر بیده سو.
هر ماښام به سړیو خپل کور له پنیرو ډکاوه او سهار به په نور پنیر وړلو پسي ذخیرې ته تلل. تر یوه وخته یې ژوند همداسې روان وو.
څه موده وروسته د هیم او هام باور په تکبر بدل سو. ډېر ژر وو چي له هر څه یې صرف نظر وکړ او توجه یې نه کوله چي څه پېښېدونکي ول.
د سنیف او سېرک ژوند همداسې روان وو. دوی به هر سهار وختي هلته تلل او لږ لږ پنیر به یې جلا کول. د دې تر څنګ به یې کتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۰ زما پنیر چا یووړل؟

چې د پرونۍ ورځ په پرتله کوم تغیرات را منځ ته سوي ول. بیا به نو کښېنستل او په تېره غاښونو به یې پنیر جلا کول او خوړل.
یوه ورځ دوی سهار وختي دریمي ذخیرې ته ولاړل او ویې لیدل هلته هیڅ پنیر نه ول.
دوی حیران نه سول. دا چې لیدل یې هره ورځ به پنیر له ذخیرې څه اندازه عرضه کېدل او ورو ورو کمېدل، نو دغه حالت ته چمتو ول او پوهېدل باید څه یې کړي وای.
دوی یو بل ته وکتل، له غاړي یې بوټونه ایسته کړل، په پښو یې کړل او تینګ یې وتړل.
موږکانو موضوع ډېره ونه شنله. دوی ته دغه ستونزه او حل لاره یې ډېره ساده ول. د پنیر په دریمه ذخیره کې حالت بدلون کړی وو. نو سنیف او سېرک هم پرېکړه وکړه ترڅو بدلون وکړي.
دواړو پېچومي ته وکتل. سنیف پزه شکه کړه، لوری یې مالوم کړ او سېرک ته یې سر وښوراوه. سېرک په منډه سو او دی ورپسې سو. دوی هڅې پیل کړې ترڅو نور پنیر پیدا کړي.
تر دوی وروسته، په همدغه ورځ، هیم او هام دریمي ذخیرې ته ورسېدل. دوی په تېرو ورځو کې متوجه نه ول چې هره ورځ څه اندازه پنیر کمېدل، نو داسي یې فرض کړي ول چې پنیر به همالته وای. دوی هغه څه ته چمتو نه ول چې ورسره مخ سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما پنیر چا یووړل؟ کیسه

هیم ناره کړه، "څه وایې؟ پنیر نسته؟ څه سول؟ پنیر څه سول؟"
په زوره نارې یې وهلې. "زما پنیر چا یووړل؟"
بالاخره لاسونه یې پر بغلونو ونیول، مخ یې سور سوی وو، او ناره یې کړه، "دا مناسبه نه ده!"

د هام هم هیڅ باور نه کېدی، سر یې وښوراوه. ده هم داسې فکر کاوه چې دریمه ذخیره به تل له پنیرو ډکه وي. څو دقیقې همداسې پر ځای ولاړ وو. چا به فکر کاوه چې ګویا یخې سوی دئ. هیڅ د دې تمه یې نه درلوده. هیم په نارو وو. مګر هام نه غوښتل د ده یوه ناره هم واروي. ده نه غوښتل له داسې پایلې سره مخ سي، نو هر څه یې بهر ته وایستل.

د کوچنیو سړیو رویه ډېره جلبوونکې نه وه، مګر د پوهېدو وړ وه. پنیر موندل اسانه نه ول، دا دوی ته ډېره لویه ستونزه وه تر دې چې فقط خوړلو ته کافي خواړه ونه لري.

پنیر موندل هغه څه ته د رسېدو لاره وه چې دوی د خوشحاله ژوند له پاره اړین بلل. دوی ته یې جلا مفهوم درلود.

ځینو ته پنیر موندل یوازې د مادیاتو لرل ول. نورو ته بیا له روغتیا څخه خوند اخیستل ول او په غوره کې اوسېدل ول.

د هام له پاره، پنیر یعنې خوندیتوب احساسول، کورنۍ لرل او په جونګړه کې ارام ژوند لرل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیم ته، پنیر لرل یعنې د غونډۍ پر سر لوی کور لرل.

دا چې پنیر دوی دواړو ته ډېر مهم ول، نو تر ډېره همدلته ول ترڅو پرېکړه وکړي باید څه وکړي. چې هر څه فکر به یې وکړ یو ځل بیا به یې دریمي ذخیرې ته وکتل چې ایا رښتیا هم پنیر ټول وړل سوي ول.

په داسې حال کې چې سنیف او سېرک تللي ول، هیم او هام همدلته پاته سول. دوی سپکې سپورې ویلې چې ولې انصاف نه وو سوی. هام تر فشار لاندې راغی. حیران وو که سبا ورځ پنیر نه وای نو څه به سوي وای؟ ده راتلونکې ته پلانونه د همدغه پنیر پر بنسټ جوړ کړي ول.

د کوچنیو سړیو هیڅ باور نه کېدی. داسې څنګه کېدای سوای؟ هیچا دوی ته خبر نه وو ورکړی. دا ښه کار نه وو سوی. حالات باید داسې نه وای.

هیم او هام په هغه ماښام کور ته وږي ولاړل. ډېر مایوسه ول. مګر کور ته تر تللو وړاندې هام پر دېوال لاندې جمله ولیکله:

**چې څومره پنیر درته مهم وي، هغومره باید ورته انتظار وکړې.**

راتلونکې ورځ هیم او هام له کوره بهر سول او یو ځل بیا دریمي ذخیرې ته ولاړل. دوی بیا هم تمه درلوده پنیر به ومومي.

حالت هماغسې وو. پنیر نه ول. کوچني سړي نه پوهېدل څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي. هیم او هام همالته مجسمو غوندي ولاړ ول.
هام له قهره سترګي پټي کړلې او سر یې په لاسونو کي ونیو. نه یې غوښتل له داسي پایلي سره مخ سي. ده نه غوښتل وپوهېږي پنیر هره ورځ عرضه کېږي او اندازه یې ورو ورو کمېږي. د ده په باور ټول په یو ځل ایستل سوي ول.
هیم هم تر ډېر ډېر ډېر فکر کولو وروسته له ځان سره وویل، "دوی ولي زموږ سره داسي وکړل؟ دا اوس څه کیسه ده؟"
بالاخره، هام سترګي خلاصي کړلې، شاوخوا یې وکتل او ویې ویل، "ښه، سنیف او سېرک چېري دي؟ فکر کوې دوی به په داسې څه پوهېږي چي موږ به په خبر نه یو؟" هیم په ډېر غرور ورته وویل، "دوی به په څه پوهېږي؟"
هیم بیا ورته وویل، "دوی موږکان دي. فقط هغه څه ته ځواب وایي چي پېښېږي. موږ انسانان یو. تر دوی ځیرک یو. باید خپله په لاس راوړو څه پېښ سوي دي."
هام ورته وویل، "پوهېږم موږ ځیرک یو، مګر داسي نه ښکاري چي موږ دي اوس له عقل څخه کار اخلو.
"ته ګوره، هر څه بدلېږي. ښایي موږ هم اړ اوسو بدلون وکړو او د ژوندانه په طریقه کي مو بدلون راولو."
"موږ ولي باید بدلون وکړو؟" هیم پوښتنه څني وکړه، "موږ کوچني

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړي یو. ځانګړي یو. زموږ سره باید داسي ونه سي. او داسي کېږي، او که داسي کېږي نو باید لږ تر لږه یو څه ګټه خو وکړو."
هام پوښتنه ځني وکړه، "موږ ولي باید ګټه وکړو؟"
هیم ځواب ورکړ، "ولي چي حق یې لرو."
"د څه شي حق لرو؟"هام غوښتل وپوهېږي.
"د پنیر حق لرو." هیم ورته وویل.
هام وپوښت، "ولي؟"
هیم ورته وویل، "په دې خاطر چي دا ستونزه موږ نه ده را منځ ته کړې. دا بل چا کړي دي او موږ ته باید یو څه ورسېږي."
هام ورته وویل، "فکر کوم موږ باید د دغه حالت تحلیلول بس کړو او په نور پنیر موندلو پسې سو."
هیم ورته وویل، "یا، زه غواړم تر وروستیو همدلته اوسم. چي تر څو موضوع پوره حلېږي."
په داسي حال کي چي هیم او هام هڅه کوله پرېکړه وکړي باید څه وکړي، سنیف او سېرک له وړاندي لا د نور پنیر موندلو په لټه ول. دوی لېري یوه پېچومي ته لاړل. لوړ، کښته، هري خوا ته یې وکتل. هر کونج یې وپلټی. دوی د بل څه فکر نه کاوه، فقط دا چي پنیر ته ځانونه ورسوي.
دوی څه موده همداسي په پلټلو تېره کړه مګر څه یې ونه موندل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مگر یوه ورځ داسي پېچومي ته لاړل چي مخکي ورغلي نه ول. یوه ذخیره یې وموندله. د دغه ذخیرې نوم ځلورمه ذخیره وه.

دوی په دې ډېر خوښ سول، ځکه هغه څه ته ورسېدل چي غوښتل یې: بیخي زیات پنیر یې پیدا کړل.

د دوی هیڅ باور نه کېدی. په ژوند کي یې د پنیرو تر دې لویه ذخیره نه وه لیدلې.

په ورته وخت کي، هیم او هام تر اوسه په دریمه ذخیره کي ول او خپل حالت یې ارزیابي کاوه. دوی اوس د پنیر نه لرلو له اغېزو ډېر کړېدل. اوس نو ستړي سوي او ډېر قهرېدلي ول. پر یو بل یې د ملامتۍ پېټی اچاوه.

کله کله به هام د سنیف او سېرک په هکله فکر کاوه، او دا به یې په زړه کي را گرځېدل چي ایا دوی به پنیر پیدا کړي ول. دی باوري وو چي د هغوی ژوند به هم سخت وو، ځکه په پېچومو کي گرځېدل سخت وي. مگر پوهېدی داسي حالت تر ډېره دوام نه سي موندلای.

ځیني وختونه به هام تصور کاوه چي گویا سنیف او سېرک نور پنیر موندلي ول او خوند یې ځني اخیستی. ده له ځان سره ویل چي دا به څومره ښه وای چي وتلي او د پېچومي په کړو وړو کي یې نور پنیر لټولي وای. کله کله به یې په خیالاتو کي هغه ځای ته ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورساوه.

څومره چې ده تصور کاوه نور پنیر یې موندلي ول، هغومره یې زړه کېدی دریمه ذخیره ترک کړي.

یو ځل یې ناڅاپه وویل، "درځه ولاړ سو!"

مگر هیم ورته وویل، "یا، زما داغه ځای خوښ دئ. دلته خوندي یو. زه بس په همدومره پوهېږم. له دغه ځای بهر خطرات موجود دي."

هام ورته وویل، "خطرات نسته. موږ مخکي د پېچومي پر کړو وړو تللي یو. عادت یو. بیا هم تلای سو."

هیم وویل، "نور زه زوړ سوی یم. بېرېږم هسي نه لاره غلطه کړم. نه غواړم ځان وغولوم."

په دغه خبره اورېدو د هام د ناکامېدو بېره برسېره او د پنیر موندلو تمه یې مغلوبه سوه.

نو هره ورځ به دوی د پخوا په څېر ژوند کاوه. دریمي ذخیرې ته به لاړل، پنیر به یې ونه موندل، او بیرته به کور ته ستانه سول. په هر ځل کورته ستنېدو کي به یې سینه د بېرې او ستومانۍ له احساساتو ډکه وه.

دوی هڅه وکړه فکر له دغه پېښې واړوي، مگر ډېره ستونزمنه وه چي بیده سي. د هري ورځي په تېرېدو یې انرژي کمېده او قهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرېدی.
په کور کي نور د پخوا په څېر خواږه نه ول. کوچنیو سړیو ته خوب کول ستونزمن ول او وهم ورسره وو چي نور به پنیر پیدا نه کړي.
مګر هیم او هام به هره ورځ دریمي ذخیرې ته تلل او هلته به یې انتظار کاوه ترڅو یو ځل بیا پنیر ومومي.
هیم وویل، "پوهېږې، که لږ څه سخت کار وکړو نو دا پایله به ترلاسه کړو چي هیڅ هم په حقیقت کي دومره بدلون کړی نه دئ. پنیر ښایي نږدې وي. ممکن تر دا دېوال ها خوا ته یې پټ کړي وي."
راتلونکې ورځ هیم او هام ذخیرې ته له وسایلو سره راغلل. په ډېره خواري یې په قلم او څټک د دریمي ذخیرې په دېوال کي سوری جوړ کړ. په سوري کي یې وکتل، مګر څه نه مالومېدل.
دوی یو څه مایوسه سول، مګر باوري ول ستونزه به حل کړي. نو کار به یې وختي شروع کاوه، تر ناوخته به پاته ول، او سخت کار به یې کاوه. تر څه موده کار کولو وروسته یې په دېوال کي لوی سوری جوړ کړ.
هام ورو ورو د مصروفیت او ګټورتوب په توپیر پوهېدی. هیم ورته وویل، "فکر کوم موږ باید دلته کښېنو او وګورو څه کېږي. ژر یا وروسته به دوی پنیر بېرته راوړي."

(c) ketabton.com: The Digital Library



هام غوښتل همداسي باور خپل کړي. نو هره ورځ به کور ته ستومانه تلی او سهار به بیرته ناارامه راتلی. مگر پنیر مالوم نه سول.

اوس نو کوچني سړي له لوږي او فشاره کمزوره سوي ول. هام نور ستړی سوی وو له دې چي انتظار وباسي په دې تمه چي هر څه به سم سي. ده ته مالومه سوه چي څومره وخت په همدغه تشه ذخیره کي پاتېږي، هغومره یې د زیان پله درنېږي.

بالاخره، هام یوه ورځ خپله ځان ته په خندا سو.

"ها ها ها، موږ ته گوره. د ژوندانه طریقه مو هماغه پخوانۍ ده او حیران یو پایله یې ولي نه بدلېږي. ډېر د خندا وړ یو."

د هام دا نظر خوښ نه وو چي یو ځل بیا د پېچومي په کړو وړو کي وگرځي، ځکه ببربدی هسي نه لاره ورکه کړي او پنیر هم ورته مالوم نه ول.

مگر ده باید پر خپل حماقت خندلي وای، ځکه نه پوهېدی ببري کوم لوري ته روان کړی وو. ده له هیم څخه پوښتنه وکړه، "موږ خپل دمنډي وهلو بوټونه چېري ایښي دي؟" بوټونه یې په ډېره سختۍ پیدا کړل، ځکه دلته په لومړي ځل راتلو او ډېر پنیر موندلو ډاډه سوي ول او فکر یې نه کاوه چي بیا به بوټونو په پښو کولو ته اړتیا پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي کله هیم ولیدل ملګری یې تلو ته چمتو والی نیسي، نو ورته ویې ویل، "ته به نه ځې. ولي زما سره دلته نه پاتېږې تر هغو چي دوی پنیر بیرته راوړي؟"

هام ورته وویل، "ځکه دلته به بیا پنیر ونه مومو. زما هم نه خوښېدل ولاړ سم، مګر راته مالومه سوه چي بیا به پنیر دوی دلته را نه وړي. دا وخت د نور پنیر پیدا کولو دئ."

هیم ورته وویل، "نو که مو هلته هم پنیر پیدا نه کړل، بیا؟ یا که موجود وي او پیدا مو نه کړل بیا؟"

هام ورته وویل، "په نور څه مي سر نه خلاصېږي." ده دغه سوالونه له ځانه څو ځله کړي ول او پایله یې دا وه چي په همدغه حالت کي پاته وو.

ده له ځانه دا سوال وکړ: "چېري شوني ده پنیر پیدا کړم-دلته او که پېچومي کي؟"

څو دقیقې په خیالاتو کي ګرځېدی. لیدل یې په پېچومي کي ګرځي او پر څېره یې مسکا خپره ده.

دغه تصور دی حیران کړ. یو ځل بیا یې ښه احساس وکړ. ده ولیدل د څه وخت له پاره په پېچومي کي سرګردانه ګرځي، مګر باوري ښکارېدی پنیر به پیدا کړي. زړه یې غټ کړ.

وروسته یې یو ځل بیا ځان داسي تصور کړ چي ګویا نور پنیر یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونډلي دي او له خوړولو يې خوند اخلي.

دی تر هغو په خيالاتو کي ګرځېدی چي تر څو يې د هيم ږغ تر غوږو سو، او وپوهېدی په دريمه ذخيره کي ولاړ دئ.

هام هيم ته وويل، "ته ګوره، ځيني وختونه حالات بدلېږي او بيا هيڅکله د پخوا په څېر نه کېږي. ښکاري اوس هم هماغسي وخت دئ. ژوند همداسي وي. بدلون کوي، نو موږ هم بايد بدلون ومومو."

هام خپل خوار ځواکي ملګري ته وکتل او د پوهولو هڅه يې وکړه، مګر د هيم ببره په قهر بدله سوه او له غوږ نيولو يې انکار وکړ.

هام نه غوښتل له خپل ملګري سره بې نزاکتي وکړي، مګر حالت يې خندا ور وسته او په زوره يې پر ځان او ملګري وخندل.

ده ځان تلو ته چمتو کړ. له ډېر وخت وروسته يې يو ځل بيا په ځان کي ځواک احساس کړ. خندا هم ورتله. په خندا کي يې وويل، "د تلو وخت دئ."

مګر هيم ونه خندل او نه يې ځواب ورکړ.

هام يوه تېره ډبره واخيسته او پر دېوال يې خپل نظر وليکی ترڅو هيم فکر پر کړی وای.

د تل په څېر، ده د خبري تر څنګ د پنير ټوټه هم رسم کړه، په دې هيله چي ملګری يې وخندوي او نور پنير مونډلو ته يې وهڅوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مگر هيم نه غوښتل ليکل سوې جمله ولولي.

جمله په لاندي ډول وه:

**هغه څوک ورکېږي چي له بدلون سره ځان نه بدلوي.**

هام سر شخ کړ او پېچومي ته يې وکتل ترڅو لاره پيدا کړي.

ده باور درلود نور به هلته پنير ونه مومي، يا دا چي پيدا به يې نه کړي. دغه ډول باورونو دی له حرکته اچولی وو او ډېر يې کړوی.

هام وخندل، دی پوهېدی هيم دې ته حيران وو چي "پنير چا يووړل؟" مگر دی حيران دې ته وو چي "ولي مي دومره وخت دلته په انتظار کولو تېر کړ؟ ولي مي مخکي لا د نور پنير لټول نه پيلول؟"

ده له پېچومي په وتو ځان خوښ احساساوه. مگر يو څه نا‌ارامه ځکه وو چي ايا رښتيا هم غوښتل يې په پېچومي کي گرځېدلی وای؟ پر دېوال يې لاندي جمله وليکله. څو دقيقې يې همداسي دغه جملې ته په ځير کتل:

**که نه بېرېدای څه دي کول؟**

په دې اړه يې فکر وکړ.

دی پوهېدی ځيني وختونه بېره ښه وي. چي کله بېرېږي او څه نه کوې نو حالات نور هم مخ پر خرابېدو ځي. دا تاسي هڅوي. مگر

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ببره دومره زیاته وي چې له کار کولو مو واچوي، نو بیا زیانمنه وي.

ده خپل ښي خوا ته وکتل، هغه ځای ته چې هیڅکله ورغلی نه وو، او ببره یې احساس کړه. بیا یې ژوره ساه واخیستله او په لوري یې رهي سو.

دا چې په دریمه ذخیره کې ډېر وخت پاته سوی وو، نو لاره پیدا کول ورته ستونزمن ول. ډېر وخت کېدی په کړو وړو کې تللی نه وو. اوس یې سبک کم وو او د پخوا په پرتله په پېچومي کې چټک نه وو.

ده دا پرېکړه وکړه چې بل هر ځل به له بدلون سره ځان ژر بدلوي. په داسي کولو به ډېر هوسا وي. بیا یې وخندل او له ځان سره یې وویل، "مګر تر همېشه پاته کېدو خو ناوخته تلل هم غوره وي."

د راتلونکو څو ورځو په جریان کې هام په کونجونو کې څه ناڅه پنیر پیدا کړل. مګر هغه دومره نه ول چې ډېر وخت یې ده ته بسنه کړې وای. ده هیله درلوده ډېر پنیر ومومي او څه اندازه هیم ته یوسي او هغه وهڅوي ترڅو له ده سره راسي.

مګر هام تر اوسه لا ډېر باوري نه وو. په کړو وړو کې ګرځېدل ورته د پخوا په پرتله ډېر سخت ول. داسي ښکارېده چې ګویا د پخوا په پرتله هر څه بدلون کړی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی چي ځومره په پېچومي کي وړاندي تلی، هغومره له تاریکه کونجونو سره مخ کېدی. دوه قدمه وړاندي تلی، یو قدم بیرته شا ته تلی. دا ده ته لویه ننګونه وه. مګر ورته مالومه سوه هغومره هم سخت نه ول چي ځومره دی ورڅخه بېرېدی.

د وخت په تېرېدو یې اندېښنه زیاته سوه چي ایا رښتیا به هم نور پنیر پیدا کړي؟ هسي نه د لا زیان لوري ته روان وي. مګر وروسته یې وخندل، ځکه ور یاد سول هلته خوړلو ته هیڅ هم نه ول.

چي هر کله به یې هیله کمېده نو له ځان سره به یې دا ویل چي "بهر وتل او په نور پنیر پسي ګرځېدل تر دې غوره نه وي چي ځوک یوازي همالته پاته سي چېري چي هیڅ پنیر نه وي؟" اجازه یې نه ورکوله حالات پر ده حکومت وکړي.

بیا به یې ځان ته دا ویل که سنیف او سېرک تلای سي نو دی هم تلای سي او نور پنیر موندلای سي.

وروسته، چي ځنګه هام خپل تېر ژوند ته فکر وکړ، ورته ځرګنده سوه د دریمي ذخیرې پنیر هماغسي په یوه ماښام نه ول ورک سوي چي ځنګه ده مخکي باور درلود. دی متوجه سو پنیر به ورو ورو کمېدل او د وخت په تېرېدو یې لذت هم کمېدی. زړو پنیرو چیناسکي کړي وې، که څه هم ده هماغه وخت ورته خاصه توجه نه کوله. مګر که یې توجه ورته کړې وای، نو ښایي په دې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېدلی وای چې له څه سره مخ کېدونکی دئ.
هام له ځان سره فکر وکړ که يې له وړاندې دغه ټکي ته توجه کولای نو هغه پايلي به حيران کړی نه وای چې ور سره مخ سو.
ښايي سنيف او سېرک ورته متوجه ول، ځکه خو سمدلاسه په تازه پنير موندلو پسې وتلي ول.
ده له ځان سره دا پرېکړه وکړه چې نور به د پخوا په څېر بيده نه اوسي. نور به يې د بدلون راتلو تمه درلودای او ورته متوجه به وای.
ده به پر خپله پوهه او هوښياري باور کولای چې بدلون کله راځي او ځان ځنګه ورسره عيار کړي.
د څو شېبو له پاره يې دمه وکړه او د پېچومي پر دېوال يې لاندي جمله وليکله:

**پنير بيا بيا بويوه ترڅو وپوهېږې زاړه سوي خو نه دي.**

تر څه وخت نور پلټولو وروسته هام د پنير يوه لويه ذخيره وليدله. چې کله ورننوتې سو او ويې ليدل ذخيره تشه ده، نو ډېر مايوسه سو.
له ځان سره يې وويل، "بېخي ډېر ځله مايوسه سوم." نور يې نو لاس نيولو ته زړه وسو. سېک يې ختلی وو. پوهېدی لاره يې ورکه کړې وه او بېرېدی ژوندی به پاته نه سي.
هام ته دا فکر پيدا سو چې ګرځېدلی او بيرته دريمي ذخيرې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې تللی وای. لږ تر لږه یوازې خو به نه وای.

بیا یې له ځانه دا سوال وکړ: **که نه بېرېدای څه دې کول؟**

هام فکر کاوه نه بېرېږي، مګر تر پخوا یې بېره ډېره سوې وه. نه پوهېدی له څه څخه بېرېږي، مګر خپل کمزوره حالت په کتو پوهېدی نور له یوازې تلو یې په زړه کې بېره وه. اوس یې شا ته زور ځکه وو چې سینه یې د بېرې له احساساتو ډکه وه.

هام بیا فکر وکړ چې ایا هیم به را روان سوی وي او که به یې د بېرې افکارو هلته تړلی ساتلی وي. بیا یې خپل هغه وخت ذهن ته راوست چې دی پکښې په غوره کې وو. دا هغه وخت وو چې کله به په پېچومې کې ډېر ګرځېدی. پر دېوال یې لاندې جمله په دې تمه ولیکله چې ده ته هم یادانښت اوسي او ملګري ته یې هم پیغام پرېږدي:

**نوې لورې ته تلل مو مرسته کوې ترڅو پنیر وموميځ.**

هام تاریکه کړې وړې لارې ته وکتل. له خپلې بېرې خبر وو. مخکې به څه وي؟ نو که هغه ځای هم تش وو؟ په دماغ کې یې دغه سوالونه راګرځېدل.

که هلته کومه خزنده پټه وه؟ زر رقمه خطرات یې تصور کړل. بېره یې لا هم ډېره سوه.

مګر وروسته یې پر ځان خپله وخندل. دی پوه سو بېرې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضوع نوره هم خرابوله. نو بیا یې هغه څه وکړل چې په نه بېرېدلو به یې کړي وای. نوي لور ته رهي سو.

لاندي لومړي تاریکه کونج ته په کښته کېدو یې وخندل. پوهېدی نه ولي خاندي، مګر په هغه څه ورو ورو پوهېدی چې د ده روح یې تغذیه کاوه. پر وړاندي تلو یې باور زیاتېدی. ډاډه وو وړاندي یو څه ول، مګر دا چې څه ول، په دې نه پوهېدی.

خوښي یې ورو ورو ډېرېده. حیران وو داسي ولي کېږي. له ځان سره.وویل، "نه پنیر لرم او نه هم خبر یم کوم لوري ته روان یم، نو بیا ښه احساس ولي کوم؟"

ډېر وخت وروسته وپوهېدی د ښه احساس لامل یې څه وو. دمه یې وکړه او پر دېوال یې لاندي جمله ولیکله:

**چې کله پر بېره غالب سې، نو ښه احساس کوې.**

هام وپوهېدی خپلي بېري بندي ساتلی وو. نوی لوري ته تللو دی له بېري آزاد کړ. د پېچومي په دغه برخه کي یې له نرم شمال چلېدو خوند اخیستی. ژوره ساه یې واخیسته او یو ځل بیا یې ځان پیاوړی احساس کړ. چې کله پر خپله بېره غالب سو، نو ژوند یې تر هغه ډېر خوندور سو چې ده یې فکر کاوه.

هام له ډېره وخته داسي احساس نه وو لرلی. د ده بیخي هېر ول چې بهر وتل او کوم څه لټول څومره خوند لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی یو ځل بیا په خیالاتو کې ډوب سو. ځان یې د هغه ډول پنیر ټوټو په منځ کې تصور کړ چې د ده به ډېر خوښېدل. ټوټه به یې ځنې جلا کړه او خولې ته به یې واچوله. دغه ډول خیالاتو ده ته خوښي ورکوله. دی یې هڅوی ترڅو پلټنه جاري وساتي.
ده چې څومره ځان واضح او روښانه تصوراوه چې ګویا ناست دئ او پنیر خوري، هغومره یې باور ډېرېدی چې ورته وبه رسېږي. داسي احساس یې کاوه چې ګویا پنیر به پیدا کړي.
پر دېوال یې لاندي جمله ولیکله:

**ځان داسي تصورول چي ګویا له پنیرو خوند اخلم، څوک پنیر ته رسوي.**

هام په دې فکر سو چې د هغه څه بايللو پر ځای څه لاسته راوړلای سي چې له لاسه یې وځي؟
دی متوجه سو ولي یې مخکي فکر کاوه د بدلون پایله به بده وي؟
اوس وپوهېدی بدلون ښه پایله هم درلودای سي.
ده له ځانه دا سوال وکړ: "ولي مخکي په دې نه پوهېدم؟"
اوس یې نو په ځان کي ډېر ځواک احساس کړ او نوي لور ته رهي سو. د پنیرو بله ذخیره یې وموندله. د ذخیرې په دروازه کي د پنیر ټوټې پرتې وې. په دې ډېر خوښ سو. دا داسي پنیر ول چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند يې نه ول ليدلي. ده يې خوند وکوت. خورا خوندور ول. يوه څه يې په خپل جېب کې واچول ترڅو هيم ته يې يوسي. ورو ورو يې انرژي زياتېده.

مگر چې کله ذخيرې ته داخل سو، نو گوري ذخيره خالي ده. بل چا تر ده مخکې پنير خلاص کړي ول او په دروازه کې يې فقط څو ټوټې ځني پاته سوي وې.

ده له ځان سره وويل که مخکې راغلی وای، پنير به يې موندلي وای.

يو ځل بيا يې پرېکړه وکړه چې هيم ته ورسي او وگوري هغه يې ملتيا کوي کنه؟

مگر، دريمې ذخيرې ته تر تللو وړاندي يې پر دېوال لاندې جمله وليکله:

**چې څومره ژر له زړو پنيرو روانېږې، هغومره ژر به تازه پنير پيدا کوې.**

دريمې ذخيرې ته ولاړ او هيم يې پيدا کړ. هام هيم ته د نوي پنير ټوټې خوړلو وړانديز وکړ، مگر هغه ډېر کمزوره سوی وو.

هيم له خپل ملگري مننه وکړه مگر ويې ويل، "زما دغه ډول پنير نه خوښېږي. خوړلای يې نه سم. زه خپل پخوانی پنير غواړم او چې تر څو مې ترلاسه کړي نه وي بل چېرې نه ځم."

(c) ketabton.com: The Digital Library



هام له مایوسۍ سر وښوراوه او بیرته رهي سو. هغه ځای ته په تلو یې ملګری ډېر یادېدی، مګر نوي لاري موندلو خوند ورکاوه. د ده تمه دا وه چي ډېر پنیر به پیدا کړي، په دې سره به ډېر خوشحاله سي. مګر ورته څرګنده سوه د خوښۍ راز یې یوازي پنیر نه ول.

ده خوښي ځکه احساسوله چي پر خپله بېره غالب سوی وو. پنیر پلټلو خوند ورکاوه. اوس یې د هغه وخت په څېر کمزوري نه احساسوله چي کله په دریمه تشه ذخیره کي ناست وو. پر بېره غالبېدو او نوي لوري موندلو قوت وربخښلی وو.

اوس نو ده داسي احساس وکړ چي ګویا دا د وخت تقاضا وه، مخکي تر دې چي هغه څه پیدا کړي چي ورته اړتیا یې درلوده. چي رښتیا سي، دی پوه سو هغه څه یې موندلي ول چي پلټل یې. له ځان سره یې وخندل او پر دېوال یې لاندي جمله ولیکله:

**په پېچومي کي د ګرځېدو خطر تر دې کم وي چي څوک په تشه ذخیره کي په انتظار پاته سي.**

هام یو ځل بیا پوه سو هغه څه چي دی ترې بېرېدی واقعاً هماغسي بد نه ول چي ده یې تصور کاوه. حقیقت او هغه حالت چي بېره یې راته انځوروي ډېر توپیر کوي.

پخوا دی بېرېدی هسي نه هیڅکله نور پنیر پیدا نه کړي، حتی تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې چې هڅه یې نه کوله په لټولو یې لاس په کار سي.
مگر له هغه وخت راهیسي چې سفر یې پیل کړی وو، د پېچومي په کونجونو کي یې دومره پنیر موندل چې ژوندی یې ساتلی وای. اوس نو دی د ډېر پنیر په لټه وو. راتلونکو شېبو ته هیلمند اوسېدو خوند ورکاوه.
د ده پخوانی فکر د بېرې تر اغېز لاندې راغلی وو. ده به دا فکر کاوه چې کافي پنیر نه لري، یا دا چې تر وروستیو به یې بسنه ونه کړي. ده به ډېر کله په دې هکله فکر کاوه چې څه بد پېښېدونکي دي تر دې چې فکر وکړي څه ښه پېښېدونکي دي.
مگر اوس یې فکر له هماغه ورځي راهیسي بدل سوی وو چې له دریمي ذخیرې را وتلی وو.
ده پخوا فکر کاوه پنیر باید تل تر تله همدلته وي او دا چې بدلون ښه نه وي. مگر اوس ورته څرگنده سوه بدلون په طبیعي ډول منځ ته راځي، که یې څوک تمه لري او کنه.
بدلون یوازې هغه وخت حیرانوونکی وي چې کله یې څوک تمه نه لري.
چې کله هام وپوهېدی نور یې باور بدلون کړی وو، نو دمه یې وکړه او پر دېوال یې لاندې جمله ولیکله:

**زوړ باور دي تازه پنیرو ته نه سي رسولای.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده لا تر اوسه څه موندلي نه ول، مګر په پېچومي کي په ګرځېدو یې په هغه څه کي فکر کاوه چي له دغه تجربو یې زده کړل.
هام ورو ورو پوهېدی نوي باور یې په فکر او کړو کي بدلون راوستی وو. اوس د پخوا په څېر نه وو.
دی پوه سو که باور بدلون وکړي، نو هغه چاري هم بدلون کوي چي سرته یې رسوو. ستا باور به دا وي چي بدلون به زیان در واړوي، یا دا چي تازه پنیر موندل به دي مرسته وکړي ترڅو بدلون ومومې او را پورته سې.
هر څه ستا په باور اړه لري.
پر دېوال یې لاندي خبره ولیکله:

## که باور ولرې تازه پنیر موندلای سې، د ژوندانه چاري دي خپله بدلون مومي.

هام پوه سو که له بدلون سره یې هر څومره ژر ځان بدل کړی او تشه ذخیره پرې ایښې وای، هغومره به یې حالات اوس ښه وای. اوس به یې ځان له جسمي او روحي لحاظه قوي احساسولای او د تازه پنیر موندلو له ننګوني سره به په ډېر قوت مخته تلای. چي رښتیا سي، که د بدلون راتلو تمه یې درلودای نو اوس به یې مخکي لا نور پنیر موندلي وای، تر دې چي وخت یې ضایع کړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هغه بدلون منلو یې انکار کاوه چې رامنځ ته سوی وو.

دی یو ځل بیا په خیالاتو کې ډوب سو: گوري د پنیر د ټوټو منځ کې ناست دئ او خوري یې. یو ځل بیا د پېچومي هغه کونجونو ته ولاړ چې ورته مالوم ول. څه ناڅه پنیر یې وموندل او ویې خوړل. په دې سره یې یو ځل بیا جسمي قوت او پر ځان باور زیات سو.

ده د څو شپېو له پاره خپل تېر وخت ته فکر وکړ. په دې خوشحاله سو چې پر دېوالونو یې خبري لیکلي وې. په دې سره به هیم، که یې له تشي ذخیرې کله هم د وتو اراده کړې وای، سمه لاره موندلې وای. دا ځل یې پر دېوال هغه خبره ولیکله چې په سفر کې به یې ډېر کله په هکله فکر کاوه:

**مخکې له مخکې په ځان کې لږ لږ بدلون راوستل دي مرسته کوي ترڅو له هغه لوی بدلون سره ځان عیار کړې چې راتلل یې حتمي وي.**

اوس نو هام له تېر وخته راوتلی وو او ورو ورو له موجوده حالت سره عیارېدی.

ده په پېچومي کې گرځېدل همداسي جاري وساتل، تر څو چې پر یوه کونج ور تاو سو او په څلورمه ذخیره کې یې تازه پنیر وموندل. چې کله ور داخل سو، نو ډېر حیران سو. دومره زیات پنیر یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وموندل چې په خپل ټول ژوند یې لیدلي نه ول. د پنیر ځیني ډولونه ده ته بیخي نوي ول، مخکې یې نه لیدلي نه خوړلي ول.

څو شېبې حیران ولاړ وو. باور یې نه کېدی چې دا دي رښتیا وي، تر څو چې پخواني ملګري سنیف او سېرک یې ولیدل.

سنیف په سر ښورولو او سېرک په پنجه پورته کولو ورته ښه راغلاست وویلی. د دوی دوو له پړسېدلو خېټو ښکارېدل چې دلته له ډېره وخته ول.

هام له دوی سره تر جوړ پخیر ویلو وروسته د هغه ډول پنیر څخه په ډېره چټکی ټوټې جلا کړې چې د ده ډېر خوښېدل. بوټونه یې له پښو وایستل، تنې یې سره غوټه کړلې او په غاړه کې واچول ترڅو د اړتیا پر وخت ورته ژر لاسرسی ولري.

سنیف او سېرک په زوره وخندل. د هام د دغه کار ستاینه یې وکړه. هام نوي پنیر ته پورته سو. څو ټوټې یې هلته پورته وخوړلې، یوه ټوټه یې را کښته راکړه او له دوی دوو له ټوټو سره یې "د بدلون پر نام" وجنګوله او ویې خوړه.

هام تر پنیر خوړولو وروسته چورت یووړ چې څومره ډېر څه یې زده کړي ول. دی پوه سو هلته په تشه ذخیره کې پاتېدل هغه پنیر ته کښېنستل ول چې نور نه ول.

بیا یې وخندل او هغه وخت ور یاد سو چې په تشه ذخیره کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله پر ځان خندلي ول. همدا هغه وخت وو چي په سفر يې پيل وکړ. دی پوه سو پر خپل حماقت خندل د بدلېدو تر ټولو چټکه طريقه وي. له دې وروسته ځوک پر پخواني حال نه پاتېږي.
همدا راز پوه سو له خپلو ملګرو، سنيف او سبرک څخه يې، ډېر لوی سبق زده کړی وو.
سنيف او سبرک ډېر ساده ژوند کاوه. هر موضوع يې تر وروستي حده نه تحليلوله. چي کله حالات بدل سول او پنير خلاص سول، دوی هم بدلون وکړ او په نور پنير موندلو پسې سول. هام له ځان سره وويل د دوی دغه سبق به هيڅکله نه هېروي.
هام هم د نورو سږيو په څېر له خپل دماغ څخه کار واخيستی: ځان يې په راتلونکي کي مثبت تصور کړ. پر خپل تېر وخت يې فکر وکړ، له غلطيو يې زده کړه وکړه او راتلونکي ته يې پلان جوړ کړ. دی پوهېدی له بدلون سره وړاندي تلل يې زده کولای سوای. د دې تر څنګ په لاندي خبرو پوه سو:
ساده ژوند کوه. بدلون منونکی اوسه. له حالاتو سره ژر بدلېږه.
په دماغ کي د بېري افکارو ته ځای مه ورکوه. اړتيا يې نسته ساده موضوعات ځان ته پېچلي وګرځوې.
ته کولای سې د بدلون د نښو په ليدو بدلېدو ته چمتووالی ونيسې.
پوه سو له بدلون سره يې ځان بايد ژر عيار کړی وای، ځکه پر وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان نه عیارول باعث د دې ګرځي چې څوک بیا هیڅکله له نوی حالت سره ځان عیار نه کړای سي.

هغه څه زموږ په دننه کې وي چې د بدلېدو مخه مو نیسي، او چې تر څو مو بدلون کړی نه وي هیڅ هم ښه حالت ته نه راځي.

هر وخت نور پنیر وي، که څه هم په لومړیو کې نه ښکاري. او دغه پنیر ته یوازې هغه وخت رسېږې چې کله پر خپله ېېره غالب سې.

ځینې وخت باید د ېېرې قدر وسي، ځکه دا څوک له حقیقي خطره ساتي. مګر ده ته مالومه سوه ډېر کله یې ېېره غیر منطقي وه او د بدلېدو خنډ یې ګرځېده.

بدلون ده ته په لومړیو کې ښه نه ایسېدی. مګر وروسته ورته څرګنده سوه دا په بدله جامه کې رحمت وو او په پایله کې یې تر پخوا ښه پنیر پیدا کړل.

پر ځان یې باور زیات سو.

پر خپلو تجربو تر زیات فکر کولو وروسته یې هیم په یاد سو. چورت یووړ چې ایا هیم به هغه لیکني لوستي وي چې ده پر دېوالونو لیکلي وې؟

ایا هیم به د تشي ذخیرې پرې ښودلو پرېکړه کړې وي؟

ایا له ذخیرې به راوتلی او پېچومي کې ګرځېدلی وي؟

او که هیم به تر اوسه همالته وي او نه غواړي له بدلون سره ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



عیار کړي؟
هام پرېکړه وکړه یو ځل بیا دریمي ذخیرې ته ولاړ سي او وګوري ایا هیم پیدا کولای سي؟ ده تمه درلوده هغه به له ځان سره دغه نوي ذخیرې ته راولي. اوس نو له ده سره ثبوتونه ول چې بل ځای یې د پنیر شته والی ثابت کړی وای. مګر شکمن وو چې هیم به د ده وړاندیز منلی وای؟
هیم باید څه نا څه خطر پر غاړه اخیستی وای، پر خپله بېره غالب سوی وای. اوس نو له ده سره داسي څوک نه ول چې مرسته یې کړې وای، یا بدلېدو ته یې هڅولی وای. د بدلېدو ګټه یې باید خپله په یو ډول نه یو ډول تجربه کړې وای.
هام پوهېدی که هیم محضي پر دېوال د ده لیکني لوستي وای، نو تر ده یې ځان رسولای سوای.
څو شېبې وروسته ولاړ سو او د څلورمي ذخیرې تر ټولو پر لوی دېوال یې د هغه څه خلاصه ولیکله چې ده زده کړي ول. له لیکني سره یې د پنیر ټوټې لوی انځور هم رسم کړ:

**بدلون راځي. پنیر هر ځای خلاصېږي.**

**بدلون ته چمتو اوسه. له حالاتو سره سم ځان بدلوه.**

**بدلون ته متوجه اوسه. پنیر په وار وار بویوه ترڅو وپوهېږې کله زړېږي.**

**له بدلون سره ځان ژر عیاروه. چې څومره ژر زاړه پنیر پرېږدې هغومره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژر به تازه پنیر پیدا کوې.**

**د پنیر له ځای بدلېدو سره ځان بدلوه.**

**له بدلون څخه خوند اخله. په تازه پنیر پسي په گرځېدو کي له نوو ځایونو خوند اخله. له تازه پنیرو خوند اخله.**

**پنیر پر یوه ځای نه پاتېږي. چمتو اوسه ترڅو ژر بدلون وکړې او هر ځل له بدلېدو خوند واخلې.**

هام پوهېدی د پخوا په پرتله یې ډېر بدلون کړی وو. نه یې غوښتل د هغه وخت په څېر بې غوره پاته سي. هره ورځ به یې پنیرو ته کتل. مالومول به یې چي څومره کمېږي. تر خپله وسه یې هڅه کوله او نه یې غوښتل یو ځل بیا داسي بدلون ته حیران سي چي هیڅ تمه یې نه کېږي.

په داسي حال کي چي هام ډېر پنیر درلودل، مگر بیا به هم په پېچومي کي گرځېدی ترڅو نوي ځایونه ولټوي، پنیر ومومي او له حالاتو خبر اوسي.

وروسته یوه ورځ ده په پېچومي کي ږغ واورېدی. ږغ داسي وو لکه څوک چي را روان وي. د هام هیلي بیا تازه سوې. لاسونه یې د اسمان لور ته لپه کړل او دعا یې وکړه چي خدای وکړي بالاخره ملگري یې دا وړتیا موندلې وي چي له بدلون سره ځان بدل کړي او له تازه پنیرو خوند واخلي.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مباحثه

هغه ورځ ناوخته

مایکل چې کله کیسه پای ته ورسوله، نو د کوټې شاوخوا ته یې وکتل او ویې لیدل پخوانیو ټولګیوالو یې ورته خندل.

ځینو یې له ده مننه وکړه او ورته ویې ویل چې له دغه کیسې یې لوی پند اخیستی وو.

نیتن له ملګرو پوښتنه وکړه، "په دې اړه څه فکر کوئ چې وروسته را غونډ سو او پر دغه کیسه بحث وکړو؟"

د زیاترو دغه نظر خوښ سو. پرېکړه یې وکړه چې تر ماښامنۍ مخکې به را ټولېږي.

هغه ماښام یې، چې څنګه د هوټل په برنډه کې را غونډ سول، په دې هکله پر یو بل ټوکې کولې چې په خپلو "پنیرو" پسې ول او په "پېچومې" کې ګرځېدل.

انجیلا په ټوکیز انداز وویل، "ښه، نو ستاسې رول په کیسه کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا وو؟ د سنيف، سبرک، هام، که هيم؟"

کارلوس وويل، "نه، ماځيګر مي په دې هکله فکر کاوه. زما ياد دي يو ځل د ورزشي توکو په سوداګرۍ کي له بدلون سره مخ سوم.

"سنيف نه وم، ځکه ده ته بدلون ژر مالومېدی او لوري يې ټاکی. او سبرک هم نه وم، ځکه ژر مي لاس په کار نه پوري کاوه.

"زه لکه هيم داسي وم. غوښتل مي پر يوه حالت پاته سم. رښتيا خو دا دي چي ما نه غوښتل له بدلون سره مخ سم. بيخي د بدلون حسول مي هم نه نه ايسېدل."

مايکل، چي فکر يې کاوه له هغه وخت ډېره موده نه کېده چي د کارلوس نږدې ملګرى وويل، له ده پوښتنه وکړه، "دا ته د څه په اړه رغېږې؟"

کارلوس ځواب ورکړ، "يو وخت په کار کي له داسي بدلون سره مخ سوم چي ما يې هيڅ تمه نه درلوده"

مايکل په خندا کي بيا پوښتنه ځني وکړه، "له دندي يې وشړلې؟"

"نه، په لنډو کي به درته ووايم چي ما نه غوښتل بهر په تازه پنير پسي وګورم. ما فکر کاوه دلايل مي درلودل ولي بايد بدلون رامنځ ته سوی نه وای. نو هغه وخت ډېر خواشينی وم."

يو شمېر پخوانيو ټولګيوالو، چي په لومړيو کي چوپ ول، په خبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیل وکړ.

په لومړیو کي فرانک وویل، "هیم ما ته خپل یو ملګری را یادوي. د ده ډیپارټمنټ پر ټړلو وو، مګر نه یې غوښتل دا ووینې. د ده تر لاس لاندي کسان یې بدلول. موږ ټولو هڅه وکړه ده ته قناعت ورکړو چي په کمپنۍ کي یې په دې سره هغه چا له پاره فرصتونه ډېر ول چي غوښتل منونکي اوسي، مګر ده فکر نه کاوه باید بدلون ومومي. دی یوازنی هغه کس وو چي ډیپارټمنټ ټړلو ته حیران وو. اوس هم ورته له بدلون سره ځان عیارول ستونزمن وي."

جسیکا وویل، "ما هم فکر نه کاوه باید له داسي څه سره مخ سم، زما د 'پنیرو' ځای څو ځله بدل سوی دئ، په تېره بیا په شخصي ژوند کي."

له نیتن پرته نور ټولو وخندل.

نیتن وویل، "ښایي اصلي خبره همدا وي."

"له بدلون سره هر څوک مخ کېږي."

ده زیاته کړه، "کاش زما کورنۍ مخکي د پنیرو کیسه اورېدلې وای. له بده مرغه، موږ نه غوښتل په سوداګرۍ کي له بدلون سره مخ سو، او اوس ډېر ناوخته دئ-اړ یو خپل زیاتره دوکانونه وتړو."

د نیتن دغه خبري د ګروپ زیاتره کسان حیران کړل، ځکه دوی فکر کاوه د نیتن سوداګري له خطره په امان وه، دی یې ډېر بختور

(c) ketabton.com: The Digital Library



باله.

"نو څه پېښ سول؟" جسیکا غوښتل وپوهېږي.

"چې کله په ښار کې یو لوی دوکان پرانیستل سو، قیمتونه یې ټیټ ول او موږ ورسره سیالي ونه سوای کولای. زموږ ټول مشتریان یې جلب کړل.

"زه اوس پوه سوم موږ د دې پر ځای چې سنیف او سېرک وای د هیم رول مو ولوبوی. موږ پر ځای پاته سوو او بدلون مو ونه کړ. غوښتل مو هغه څه صرف نظر وګرځوو چې پېښېدونکي ول او اوس دا دئ په ستونزه کې یو. که مو دا کیسه هغه وخت اورېدلې وای، نو له هام به مو ډېر څه زده کړي وای-ځکه نه مو پر ځانونو خندل او نه مو د سوداګرۍ طریقه بدلوله."

لورا، چې اوس مهال ښه بریالۍ سوداګره وه، تر اوسه غوږ نیولی وو، وروسته یې وویل، "ما هم د کیسې په هکله ماځیګر فکر وکړ. زه هام وم، ځکه ځان ته مي کتل ترڅو پوهېدلې وای کوم کارونه مي ناسم ول، پر ځان مي خندل او بدلون مي کاوه."

دې وویل، "زه غواړم پوه سم په تاسي کې څوک له بدلون څخه بېرېږي؟" چا ځواب ور نه کړ. نو بیا یې وویل، "فقط لاس پورته کړئ."

یوازې یو لاس پورته سو. دې وویل، "ها، ښکاري یو صادقه سړی مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ګروپ کې پیدا کړ. ښه، ښايي دوهم سوال مو خوښ سي. څوک فکر کوئ نور خلک له بدلون څخه ببرېږي؟" ټولو لاسونه پورته کړل. وروسته ټول په خندا سول.

"له دې څخه څه پیغام اخلئ؟"

"د انکار،" نیتن ځواب ورکړ.

مایکل ور غبرګه کړه، "بالکل، ځیني وختونه بیخي خبر نه یو ببرېږو. زه خپله همداسي وم. چي کله مي دا کیسه لومړی ځل واورېده، نو دا سوال مي خوښ سو چي 'که نه ببرېدای څه دي کول؟'"

تر دې وروسته جسیکا ور زیاته کړه، "ما له دا کیسې زده کړل بدلون هر ځای راځي او زه به پوره هڅه کوم ترڅو ځان ژر ورسره عیار کم."

"زما یاد دي یو وخت مو کمپنۍ انسایکلوپیډیا تر شل په زیاتو کتابونو کي ځای پر ځای کوله او بازار ته مو عرضه کوله، مګر یوه سړي راته وویل دا به ښه وای چي ټوله انسایکلوپیډیا مو په میموري فلش کي ځای پر ځای کړې او په ډېر ټیټ قیمت مو عرضه کړې وای. په دې سره به تولیدي پروسې هم کم لګښت کولای او زیاتو خلکو به یې د رانیولو وړتیا هم درلودای. مګر موږ ټولو د ده د وړاندیز مخالفت وکړ."

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی دې ته متوجه نه ول چې باید له حالاتو سره سم یې بدلون کړی وای.

نیتن وویل، "نو تاسي فکر کاوه زاړه پنیر مو یوازني پنیر ول."

"هو، او غوښتل مو همدغه پنیرو ته پاته سو."

"نو چې کله مي فکر وکړ موږ له څه سره مخ سوو، نو پوه سوم 'پنیر' بل چا وړي نه ول بلکي دوی ژوند درلود او هیڅکله پر یوه ځای نه پاتېدل.

"په هر صورت، موږ بدلون ونه کړ. مګر سیال مو بدلون وکړ او زموږ د پلورني کچه صفر ته را ټیټه سوه. موږ اوس په ډېر سخت حالت کي قرار لرو. اوس بیا په تولیدي برخه کي یو بل تخنیکي بدلون را روان دئ او هیڅوک نه غواړي ورسره مخ سي. فکر کوم ژر به مي دنده له لاسه ووځي."

کارلوس وویل، "دا د پیچومي وخت دئ." د جسیکا په شمول ټولو وخندل.

کارلوس جسیکا ته مخ واړاوه او ورته ویې ویل، "دا هم ښه ده چې پر ځان خندلای سې."

فرانک وویل، "ما له کیسې همدا زده کړل. ما هر څه ډېر جدي نیول. زما فکر وو چې کله هام پر ځان او خپلو ناسمو کارونو وخندل نو څنګه یې بالاخره بدلون وکړ."

(c) ketabton.com: The Digital Library



انجیلا پوښتنه وکړه، "فکر کوئ هیم به کله هم بدلون کړی او پنیر مونډلي وي؟"

ایلین وویل، "زه خو فکر کوم بدلون به یې کړی وي."

کوري وویل، "مګر زه فکر نه کوم. ځینې خلک بدلون نه کوي او قیمت یې پرې کوي. ما په طبابت کې داسې خلک لیدلي دي. دوی 'پنیر' د ځان حق ګڼي. او که یې له لاسه ووځي نو ځانونه قرباني ورته ښکاري او نور ملامتوي. دوی له صحي لحاظه تر هغه چا ورو ورو کمزوره کېږي چې له بدلون سره بدلېږي."

وروسته نیتن کرار وویل، داسې لکه له ځان سره چې ږغېدی، "موږ باید وپوهېږو څه پرېږدو او په دې هم پوه سو څه ته ولاړ سو."

څو شېبې ټول چوپ ول.

نیتن ادامه ورکړه، "زه باید دا ومنم چې ما لیدل د هیواد په شاوخوا کې زموږ غوندې سوداګر له څه سره مخ ول، مګر ما هیله درلوده موږ به اغېزمن نه کړي. فکر کوم بدلون راوستل به دې تر دې ډېر غوره وي چې څوک له بدلون سره مخالفت وښیي یا ورسره ځان عیار کړي. فکر کوم موږ باید د پنیرو ځای خپله بدل کړو."

فرانک وویل، "ستا مطلب څه دئ؟"

نیتن ځواب ورکړ، "اوس خو ښکاره ده نه کېږي، مګر که هغه وخت مو خپل ټول زاړه دوکانونه پلورلي او یو عصري لوی دوکان جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی وای نو څومره به ښه وای. اوس به مو د سیالانو سیالي کولای سوای."

لورا وویل، "ښايي په داغه خاطر هام پر دېوال لیکلي ول چې ' له بدلون څخه خوند اخله. په تازه پنیر پسي په ګرځېدو کي له نوو ځایونو خوند اخله.'"

فرانک وویل، "زه فکر کوم ځیني شیان باید بدلون ونه مومي. مثلاً، زه غواړم خپل پخواني ارزښتونه وساتم. مګر پوهېږم که په لومړیو کي په 'تازه پنیر' پسې سوی وای ډېر به ښه وای."

ریچارډ، چي څه نا څه شکمن وو، وویل، "ښه، مایکله، دا ښه کیسه وه. مګر د دې له پنده دي په کمپنۍ کي استفاده څنګه وکړه؟"

په دوی کي هیڅوک تر اوسه په دې نه پوهېدل، مګر ریچارډ اوس مهال ځیني تغیرات تجربه کول. په دې وروستیو کي له مېرمني بېل سوی وو، مجبور وو چي د کار کولو او ماشومانو روزلو تر منځ یې انډول منځ ته راوړی وای.

مایکل ځواب ورکړ، "ښه، فکر کوم زما دنده د ورځنیو ستونزو حلولو ول او دې ته مي هم کتل چي کوم لوري ته روان وم.

"څلورویشت ساعته په کار کولو او ستونزو حلولو بوخت وم. اسانه نه ول. هیڅ تفریح مي نه درلوده."

لورا وویل، "ښه نو هغه وخت په ستونزو حلولو بوخت وې چي کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي د کمپنۍ مشري هم په غاړه وه."

مایکل وویل، "دقیقاً، بیا چي کله ما دغه 'زما پنیر چا یووړل؟' کیسه واورېده، نو پوه سوم زما دنده د هغه 'تازه پنیرو' انځور جوړول ول چي موږ ټولو غوښتل تعقیب یې کړو، په دې سره به مو په ژوند او کار دواړو کي له بدلون څخه خوند اخیستی او بریا ته رسېدلي وای."

نیتن پوښتنه وکړه، "په کار کي دي څه وکړل؟"

"ښه، چي کله ما په کمپنۍ کي له خپلو کارمندانو پوښتنه وکړه هر یوه د چا رول لوبوه، نو ومي لیدل په سازمان کي مو څلور واړه کرکټرونه موجود ول. زه وپوهېدم له سنیف، سکرېک، هیم او هام ټولو سره باید بېل چلن سوی وای.

"هغه کارمندانو چي د سنیف رول یې لوبوه په مارکېټ کي بدلون ژر احساسولای سوای، نو دوی به زموږ سره د سازمان د لېرلید په نوي کولو کي مرسته کوله. دوی به موږ ته ویل چي د مشتریانو د علاقې وړ اجناسو تولیدولو او خدماتو په عرضه کولو به مو څومره گټه کړې وای. دوی له خپلو دغه نوو دندو سره علاقه ښوده او ویل به یې چي په داسي ځای کي کار کول خوند ورکاوه چي بدلون پکي ژر احساسېدی او ځانونه ورسره ژر عیارېدل.

"د سکرېک رول لوبوونکو کارمندانو کار کول خوښېدل، نو دوی به

(c) ketabton.com: The Digital Library



مو هڅول ترڅو له نوي لېرلید سره سم لاس په کار سي. پر دوی باید نظارت سوای وای ترڅو ډاډ حاصل سوای وای هسې نه غلط لوري ته روان ول.

"وروسته مو دوی ځکه په جایزو نازول چې موږ به یې 'تازه پنیر' ته رسولو. دوی ته په داسې کمپنۍ کې کار کول خوند ورکاوه چې کړنو او پایلو ته پکښې ارزښت ورکول کېدی.

انجیلا پوښتنه ځنې وکړه، "او هغه خلکو څه کول چې د هیم او هام رول یې لوبوه؟"

مایکل ورته وویل،"له بده مرغه، د هیم رول لوبوونکي هغه څوک ول چې زموږ وړاندې تګ به یې ورو کاوه. دوی ته پر ثابت حالت پاتېدل ښه ایسېدل یا هم له بدلون څخه ډارېدل.

"له دوی څخه ځینې هغه وخت بدلون ته چمتو سول چې کله یې زموږ لېرلید ولیدی او پوه سول بدلېدل مو په ګټه ول.

"دوی غوښتل په خوندي ځای کې کار وکړي، نو بدلون دوی ته داسې ښکارېدی چې حتماً به له سره مل وي. مګر چې کله وپوهېدل لوی خطر په نه بدلېدو کې وي، نو ځینو یې بدلون ته چمتووالی وښود او مثبت ثابت سول. د سازمان د لېرلید په مرسته مو د هیم رول لوبوونکي د هام رول لوبوونکي وګرځول."

فرانک غوښتل په نور څه هم وپوهېږي، نو یې وپوښتل، "نو له هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارمندانو سره مو څه وکړل چې بدلون ته چمتو نه سول؟"
مایکل په خواشینۍ ځواب ورکړ، "هغوی مو رخصت کړل.
"موږ غوښتل خپل ټول کارمندان له ځان سره ولرو، مګر پوهېدو که مو ژر بدلون کړی نه وای ښایي له ډېرو ستونزو سره مخ سوي وای."

وروسته یې وویل، "ښه خبره دا ده چې کله د هام رول لوبوونکي په لومړیو کې زړه نازړه ول، بیا هم غوښتل یې نوي څه زده کړي، کارونه په بېل ډول وکړي. دوی پر ښه وخت بدلون ته چمتو سول او زموږ سره یې بریا ته په رسېدو کې مرسته وکړه.
"په دوی کې د بدلون تمه پیدا سوه او ورته سترګې په لاره ول. دا چې دوی له انساني طبیعت سره اشنا ول، نو زموږ سره یې د هغه 'تازه پنیرو' په حقیقي لېرلید جوړولو کې مرسته وکړه چې هر چا ته یې عملاً مثبت روحیه ورکوله.
"دوی موږ ته وویل غوښتل یې په داسي سازمان کې کار وکړي چې خلکو ته یې باور بخښنه او مواد یې ورته چمتو کول ترڅو بدلون ومومي. او زموږ سره یې مرسته وکړه ترڅو په ښه خوش طبعۍ مو 'تازه پنیر' لټولی وای."
ریچارډ پوښتنه وکړه، "تاسي دا ټول له یوې لنډې کیسې زده کړل؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مایکل پر څېره مسکا خپره سوه، ویې ویل، "زموږ د پرمختګ اساس کیسه نه وه، بلکي په مختلف ډول چاري سرته رسول ول چي له کیسې مو زده کړي ول."

انجیلا د ده د خبري په تائید وویل، "زه هیم غوندي یم، نو په کیسه کي تر ټولو خوندوره برخه راته دا وه چي هام پر خپل ځان وخندل او په دماغ یې داسي انځور جوړ کړ چي ده احساسول کوم ځای ناست دئ او تازه پنیر خوري. په دې سره ده ته په پېچومي کي ګرځېدل بېرووونکي نه ول او خوند یې ځني اخیستی. او بالاخره تازه پنیر یې وموندل. ځکه خو زه هم غواړم ډېر کله همداسي وکړم."

فرانک د ټوکي په ډول وویل، "ښه نو هیم هم د بدلون ګټه درک کولای سي."

کارلوس په خندا سو، "لکه پر ثابت حال د پاتېدو ګټه."

انجیلا زیاته کړه، "یا د عایدو لوړېدو ګټه."

ریچارډ، چي تر دا مهاله یې تندی تریو نیولی وو، وویل، "زما مدیره څه موده کېږي راته وایي کمپنۍ مو بدلون ته اړتیا لري. فکر کوم بدلون ته اړتیا لرو، مګر نه مي غوښتل په اړه یې واورم. داسي راته ښکاري لکه هیڅکله چي نه پوهېدم 'تازه پنیر' څه ول او موږ یې کوم لوري ته بېولو. یا دا چي ما له دې څنګه ګټه کولای سوای."

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس یې نو پر څېره لړ د مسکا سیوری وغوړېدی او ویې ویل، "باید د تازه پنیر انځورولو او ترې خوند اخیستلو نظر ومنم. په دې سره ځوک ډېره مغلوبولای سي. او چي کله وینې په هر څه کي ځنګه مثبت بدلون راځي، نو له بدلون راوستو سره دي علاقه ډېرېږي.

"ښایي له دې څخه په خپل شخصي ژوند کي هم استفاده وکولای سم. زما ماشومان فکر کوي باید هیڅ شی یې په ژوند کي بدلون ونه مومي. داسي راته ښکاري چي د هیم رول لوبوي. محضي کوچني بدلون ته هم قهرېږي. دوی ښایي ډېرېږي هسي نه په راتلونکي کي له څه سره مخ سي. ښایي ما هیڅکله دوی ته 'تازه پنیر' انځور کړي نه وي. او دا ځکه ښایي ما تر اوسه خپله هم نه لیدل."

څو شېبې چوپتیا خپره سوه. هر یوه د خپل ژوند په هکله فکر کاوه.

جسیکا په چوپتیا ماتولو وویل، "ښه، تاسي زیاترو د کار، دندو او کمپنیو یادونه وکړه، مګر ما په کیسه اورېدلو همدا راز د شخصي ژوند په هکله فکر وکړ. فکر کوم اوس زما اړیکي 'زاړه پنیر' دي او مخ پر خرابېدو دي."

کوري د دې د خبري په تائید په زوره وخندل او ویې ویل، "زه هم ستا غوندي یم. زه هم باید نوي اړیکي جوړي کړم."

(c) ketabton.com: The Digital Library



انجيلا په ځواب کي ورته وويل، "ښايي 'زاړه پنير' زوړ چلن اوسي. ممکن اړتيا دې ته وي چي بايد د بد چلن مخه ونيوله سي چي د اړيکو زيانمنېدو سبب ګرځي."

کوري وويل، "ښه نقطه! 'پنير' کېداى سي له زاړه کس سره نوې اړيکه اوسي."

ريچارډ وويل، "زه هم فکر کوم په دغه خبره کي تر هغه ډېر څه سته چي ما يې فکر کاوه. زما هم دا نظر خوښ سو. چلن بدلول به تر دې غوره وي چي څوک اړيکه له منځه يوسي. يو ډول چلن کول مو همېشه ورته پايلو ته رسوي.

"او په کار کي هم، د دې پر ځاى چي په دنده کي مو بدلون راسي، بايد د کار کولو طريقه مو بدله کړو. که مي داسي کړي واى، نو ښايي اوس مي ښه مقام درلوداى."

تر ده وروسته بيکي، چي اوس مهال په بل ښار کي اوسېده او د پخوانيو ملګرو ليدو ته راغلې وه، وويل، "کيسې او ستاسي هر يوه نظر ته په کتو ما بايد پر ځان خندلي واى. زه هم هيم غوندي وم، له بدلون څخه سخت بېرېدم. په دې نه پوهېدم چي نور خلک هم زما په څېر له بدلون څخه بېرېږي. بېرېږم هسي نه دغه بېري مي ماشومانو ته هم سرايت کړى وي.

"مګر اوس فکر کوم بدلون څوک نوي او غوره پايلي ته رسولاى سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"زما په یاد دي چي کله مي زوی د ښوونځي په وروستي ټولګي کي وو، نو خاوند مي بل ښار ته تبدیل سو او موږ باید همالته تللي وای، مګر زوی مي خواشینی ځکه وو چي باید خپل ملګري یې پرېښي وای. دی په لامبو وهنه کي د خپل ښوونځي اتل وو او په هغه نوي ښار کي د لامبو وهلو لوبډله نه وه. نو دی موږ ته هم په قهر وو چي ولي مو بل ښار ته بوی.

"مګر نوي ښار ویرمونټ ته په تلو د ده د هغه ځای له هسکو غرونو سره مینه پیدا سوه، سکي لوبه یې شروع کړه، د پوهنځي د سکي لوبډلې ته یې لاره پیدا کړه او اوس په کلوراډو کي ښه ژوند لري.

"که مو دغه د پنیر کیسه هغه مهال اورېدلې وای، نو ټوله کورنۍ به مو له فشاره ژغورل سوې وای."

جسیکا وویل، "زه چي کور ته ولاړه سم دغه کیسه خپلې کورنۍ ته اوروم. زه به له خپلو ماشومانو پوښتنه وکړم چي زما رول په کیسه کي د چا دئ او دوی د چا رولونه لوبوي. موږ به په دې اړه خبري وکړو چي 'زاړه پنیر' مو څه دي او 'تازه پنیر' مو څه دي."

ریچارډ وویل، "دا ډېر ښه نظر دئ."

وروسته فرانک زیاته کړه، "فکر کوم زه به هام غوندي سم، تازه پنیر به لټوم او خوند به تري اخلم. او زه به دا کیسه خپلو هغه ملګرو ته هم واوروم چي له پوځ څخه له بېلېدو او بدلېدو ببرېږي. پر دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضوع کېدای سي موږ ښه خوندور بحث ولرو."

مایکل وویل، "ښه، په همدې ډول موږ په خپله سوداګري کي سمون راوستی. موږ په دې اړه ډېر بحثونه کړي دي او نظرونه مو شریک کړي دي چي ځنګه کولای سو د کیسې له مفهوم څخه عملي کار واخلو. په دې هکله ږغېدلو موږ ته خوند راکاوه. کیسه یې خوندوره وي. همداسي ډېره اغېزمنه هم وه، زموږ په کمپنۍ کي یې ډېري ژوري ریښې ونیولې."

نیتن پوښتنه ځني وکړه، " له 'ژوري' څخه دي هدف څه دئ؟"

"چي څومره موږ په بدلون راوستو کي وړاندي تلو، هغومره مو ډېر خلک لیدل د ځواک له نشتون سره مخ ول. دوی بېرېدل له پورته خوا تپل سوی بدلون به یې له ځنګه پایلي سره مخ کړي. ځکه یې د بدلون مخالفت کاوه.

"په لنډو کي، د تپل سوي بدلون مخالفت کېږي.

"مګر چي کله د سازمان له غړو سره د پنیر کیسه شریکه سوه، نو له دوی سره یې د نظر زاویې په بدلولو کي مرسته وکړه: نور موږ بدلون ته د پخوا په سترګه نه کتل. نږدې هر یو یې دې ته اړ کړ چي پر ځان وخاندي، خپل بې ځایه بېرېدلو ته یې حیران سي او بدلون راوستلو ته یې وهڅول. .

"اوس ارمان یوازي دا کوم چي کاش دا کیسه مي مخکي اورېدلې وای."

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارلوس پوښتنه ځني وکړه، "هغه ولې؟"

"ځکه هغه وخت ډېر ناوخته سوی وو چي کله موږ د بدلون په هکله نظرونه شريکول پيل کړل. ما مخکي هم يادونه وکړه چي زموږ ځيني کامندان او ښه ملګري تللي ول. زموږ ټولو له پاره دا ډېر سخت ول. مګر هغه چي پاته سول او له هغه هم ډېرو کسانو چي تللي ول موږ ته وويل دغه کيسې اورېدلو يې په ژوند کي بدلون راوستی وو: نور يې بدلون ته د پخوا په سترګه نه کتل او بالاخره وړتيا يې موندلې وه ترڅو ښه مبارزه وکړي.

"هغه کسانو چي بايد نوې دنده يې پيدا کړې وای وويل په لومړيو کي ورته ډېره سخته وه مګر کيسه اورېدلو يې ډېره مرسته کړې وه."

انجيلا پوښتنه وکړه، "ډېره مرسته يې څه وکړه؟"

مايکل ځواب ورکړ، "چي کله دوی پر خپله بېره غالب سول، نو وپوهېدل 'تازه پنير' ول او فقط بايد پلټلي يې وای.

"د دوی په وينا چي ځانونه يې مثبت انځور کړي ول: داسي تصور به يې کاوه چي ګويا ښه دنده لري او په ډېر ښه ډول يې مخته وړي. په دې سره دوی ښه احساس کاوه او تر ډېره يې د نوو دندو په پيدا کولو کي مرسته کړې وه. ځينو يې ډېري ښه دندي پيدا کړي وې."

دا ځل لورا پوښتنه ځني وکړه، "او هغه خلک څنګه سول چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسي سره په کمپنۍ کي پاته سول؟"

مایکل ځواب ورکړ، "نه، د پخوا په څېر سر تېکولو پر ځای به اوس دوی ویل 'پنیر زاړه سوي، راځئ تازه ولټوو.' د دوی په فکر او چلن کي بدلون راتلو زموږ د وخت ضایع کېدو مخه نیولې وه او تر ډېره مو فشار کم سوی وو.

"هغه کسانو چي مخکي یې د بدلون مخالفت کاوه، اوس د بدلون په ګټه پوهېدلي ول او خپله یې غوښتل بدلون راولي."

کوري وویل، "ته څه فکر کوې دوی بدلون ولي وکړ؟"

"دوی ځکه بدلون وکړ چي د ملګرو فشار پر کم سو."

ده بیا پوښتنه وکړه، "تا په ډېرو سازمانونو کي دنده اجرا کړې ده، څه پېښېږي چي کله د لوړ مدیریت له خوا د بدلون اعلان وسي؟ کارمندان څه فکر کوي؟ بدلون ښه نظر که بد نظر ګڼي؟"

فرانک ځواب ورکړ، "بد نظر."

مایکل تائید کړه، "هو، همداسي وي."

"مګر ولي؟"

کارلوس ځواب ورکړ، "ځکه خلک غواړي هر څه پر خپل حالت پاته سي او بدلون ته په بده سترګه ګوري. چي کله یو کس ووایي بدلون ښه نظر نه دئ، نور یې ورسره بدرګه کړي."

مایکل وویل، "همداسي وي، دوی ښایي ټول هماغسي د یوه کس

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څېر فکر ونه لري، مګر څکه يې تائيدوي ترڅو پر خپل حال پاته سي. دا د ملګرو د فشار يو ډول وي چي په هر سازمان کي د بدلون مخه نيسي."

بيکي پوښتنه وکړه، "کارمندان مو تر دغه کيسې اورېدلو وروسته څنګه ول؟"

مايکل ځواب ورکړ، "د ملګرو فشار مو له منځه يووړ. هيچا نه غوښتل هيم غوندي واوسي."

ټولو وخندل.

"اوس دوی غوښتل د 'تازه پنيرو' لوری مالوم کړي او په لور يې حرکت وکړي، پر ځای د دې چي هيم غوندي 'زړو پنيرو' ته پاته سوي وای."

نيتن وويل، "ښه نقطه! هيڅوک به زموږ په کمپنۍ کي ونه غواړي هيم غوندي واوسي. دوی ښايي هر يو بدلون ته چمتو سي. موږ څه موده مخکي هم سره غونډ سوي وو، ولي دي هغه وخت دا کيسه نه کوله؟ زموږ ډېره مرسته به يې کړې وای."

مايکل وويل، "هو، مرسته خو کوي."

"بېشکه، که د سازمان-که لوی يا کوچنی سازمان يا هم کورنۍ وي-غړي کيسه واوري نو ډاډه يم ډېره مرسته به مو وکړي، ځکه سازمان يوازي هغه وخت بدلون مومي چي کله يې په خلکو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدلون راسي."

تر دې وروسته يې خپل وروستی نظر داسي څرګند کړ، "چي کله موږ وليدل دا کيسه کار کوي، نو له هغه خلکو سره مو شريکه کړه چي کاروبار مو ورسره وو، څکه پوهېدو دوی هم له بدلون سره مخ ول. دوی ته به مو ويل چي ښايي موږ يې 'تازه پنير' اوسو او را سره په يو ځای کېدو بريا ته ورسېږي. په دې ډول به مو په سوداګری کي نوي ملګري موندل."

جسيکا له دغه مباحثې څخه ډېر څه زده کړي ول، او ور ياد سو سهار وختي بايد له مشتريانو سره اړيکه ونيسي. خپل ساعت ته يې وکتل او ويې ويل، "ښه، زه بايد اوس 'زاړه پنير' پرېږدم او 'تازه پنير' ولټوم."

ټول په خندا سول او يو بل ته يې په مخه ښه ويلو پيل وکړ. زياترو غوښتل بحث همداسي ګرم وساتي مګر بايد تللي وای. او چي کله تلل، نو له مايکل څخه يې يو ځل بيا مننه وکړه.

ده وويل، "ډېر خوښ سوم چي زما له لنډې کيسې مو ډېر څه زده کړل او هيله لرم په فرصت موندلو يې نورو ته هم ورسوئ."

د ژباړي پای

۲۰۱۹/ اپريل/ ۸

کندهار-څوارلسمه ناحيه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**